# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره
خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په
غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا
زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې
ډیر سخت منع دی

پښتونستان


پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited
without written permission of Pukhto.Net

Pukhto.Net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقوق په حق د مصنف محفوظ دي

د کتاب نوم ——— دار او دلدار

ديکوال نوم ——— اجمل منصور

کتابت ——— محمد رسول پښتو اکيډمي

سرپانه ——— ذوالفقار علي بهټو (پرنسپل) د کوسهره

شمېر ——— پنځه سوه

د چاپ کال ——— نولس سوه اته نوي

قيمت ——— ۳۰، روپۍ

خرونکي

کالج بک ډپو تو پۍ (صوابۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منته

لیاقت تصور، صادق حسین صادق، امان الله راهي، شعیب ساگر، جهان زیب سهیل - آصف خان خلیل، محمد اشفاق اشفاق، عباس هوتي، مامون رشید رشید، پروفیسر عارف خټک او ابن یار یوسفزي.
دا هغه ښاغلي دي چې زه ئې دې کتاب چاپ کولو ته رو پارولم زما حوصله ئې یو په دوه کړه -

عطاء الرحمن زهیر - ابن یار یوسفزي

ذوالفقار علي دوسهره او سید افضال شاه (سادات گرافکس لاهور) چې زما د دې کتاب سرپاڼه ئې هم جوړه کړې ده دې ښاغلو ما سره په دې کتاب کښې هم قلم مرسته کړې ده -

ګران مشر نورالبشر نوید او ښاغلي همېش خلیل دې دواړو زما په دې کتاب څوکې بنې لیکلې دي - زه د دې پوره ته ذکر شوو ملګرو او مشرانو سره د سید قیوم - افتخار احمد (کالج بک ډپو توپي)
د توپي غرو هم ډېره، ډېره منته کوم چې زما حوصلې ئې اوچتې کړې -

اجمل منصور

شهیدان (توپچه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منصور - دار او دلدار

د پښتو شاعرۍ کښې بعضې زاړهٔ اصطلاحات د نوؤ حالاتو او واقعاتو په حواله دومره په تکرار سره بیانیږي چې هر څوکهٔ د غه اصطلاحات یا واقعیات زاړهٔ دي خو د نوي دور شاعرۍ په داسې انداز بیان بیان کړي چې لوستونکي له خوند ورکړي - په دغه کښې منصور او دار په پښتو شاعرۍ کښې د حالاتو د قدغنونو د نفي کولو له پاره په شدت سره بیانیږي -

زمونږ د نوي دور یو ماشوم شاعر اجمل منصور خو په مجموعي توګه د خپلې شاعرۍ علامت هم دار او دلدار ګرځولے دے - او د غني خان د خلې دې خطاب سره ئې ښځې انصاف کړے دے - اجمل له د منصور خطاب غني خان ورکړے دے - لکه چې هغه ورته ښځې د خپل دې شعر په آئینه کښې کتلي دي -

منصوره څکه خو په دار او ختې
چې د آشنا راز دې څرګند کړو له یو پړه

اجمل منصور په پښتو شاعرۍ کښې د دار او دلدار استعمال د علامت په طور کړے دے او هغهٔ تر ټوله شاعري مجموعي طور په دغه خیال د نګینه ده - زهٔ ځاني طور د اجمل منصور د لږ عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرۍ په حقله دا په دعوه سره وایم چې دا ماشوم د حالاتو جبر د وخت نه وړاندې ذهني او شعوري طور بالغ کړے دے چې هغه په داسې ماشوم ژوند کښې دومره ژور فکر لري - حالانکې دا جمل منصور د عمر هلکان فقط د کرکټ یا نورو لوبو شوق لري خو دا ښاغلے د پښتو او پښتون وظیفه کوي یو ویښ احساس رسا نظر او پښتون شعور لري - زه د ده شاعرۍ ته الهام وایم ځکه چې په داسې عمر کښې داسې آمد ته نور څه وئیلے شي؟ زه د روایت مطابق د هغه شاعرۍ ته دعا نه کوم د هغه ژوند ته دعا کویم چې خدائے دله ژوند ورکړي نو د برخه به روښیکي -

نورالبشر نوید

افغان کالونی پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "ذوالجلال"

قبلو نکے د هر سوال دے ذوالجلال
بل څوک نهٔ دي ذوالجلال دے ذوالجلال

نهٔ د چا نه دے پیدا نهٔ ترې پیدا دي
نهٔ بدلیږي په یو حال دے ذوالجلال

نهٔ په چا باندې ئې کار نهٔ ئې غرض شته
نهٔ سجده وته مو لیوال دے ذوالجلال

هغه خلق په ژوندوني جنتیان دي
چې د چا نه هم خوشحال دے ذوالجلال

د منصور د دار په سر به دا اوازوي
سیال ئې نشته دے بې سیال دے ذوالجلال

ماښام مال

نیل چوپال

۹۲-۳-۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "د نوي کال سحره"

په پښتونکښې به غېرت، مینه او توان راولې
د رقیب خېلو په محلت کښې به خزان راولې

په ژبه کونګ دې شمه بل که درنه سوال اوکړمه
د نوي کال سحره ماله به جانان راولې

۳۱-۱۲-۹۲

ماڅېګر مال

خېل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مینې په محفل کښې چې داخل شوم
ایله اوس په انسانانو کښې شامل شوم

دا چې مخې اول ماته په ولاړه وو
نن یې زه در کښې ولاړ یمه سائل شوم

ستا د مینې نه به زه څنګه لاس واخلم
ستا وفا وه چې د نیا سره واصل شوم

اوس د جانانه کیله او کړمه جانانه
زه د خپل ارمان په خپله چې قاتل شوم

د منصور په یارانې دې یقین او شو
د دین په وخت دې جانانه را نازل شوم

۹۲ - ۱ - ۳
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاهره که په غم باندې غمجن زماجانان دے
والله دې بې وفا او دروغژن زماجانان دے

پرون مسکے مسکے وو د رقیب په خوا کښې ناست وو
نن خوا، خوا ته مې کښېږي جوړ دردمن زماجانان دے

د وخت قافلو راشئ یو تپوس درته کوؤمه
د ستاسو خیمتوب دے که خیمن زماجانان دے

خپل عقل پرې تمام کړم په مطلب ئې پوهه نه شم
او ستاسو نظریه کښې لا یې فن زماجانان دے

منصوره چې ئې کله په غزل کښې نامه واخلم
په دې خبره مانه ګیله من زماجانان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ یار رضا شهٔ نهٔ زړهٔ صبرېږي
هر یو ارمان مې دلته قتلېږي

ولیدل ډېر مې په میکده کښې
چې په لمن یې مونځونه کېږي

دا کوم انصاف دے وه ساقي جانه
څوک ورته ګوري او څوک مستېږي

په دې کښې هم لا ملګري وائي
زړګے کړه صبر چې هر څهٔ کېږي

زړګے مې رو چوي غمونه زور کړي
د نجیب مرګ چې ماته یادېږي

زما په خيالي جوړ لېونے شو
منصور یو ګوته کښې ځانله ګودېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ښکلی یار مې په نظر نهٔ راځي
دُنیا دې وا خله چې دلبر نهٔ راځي

ډېر صبر او مې کړو په صبر نهٔ شوه
روژه مې تېره کړه اختر نهٔ راځي

پرون وعده ئې د ماښام کړې وه
تیرې خورې شوې ماښام نهٔ راځي

ساقي و بُل دا ته چې د نشه راشه
د مېخانې نه څوک بهر نهٔ راځي

په زړهٔ غمګین یم بې وصاله د اسې
لکه چې شپې پسې سحر نهٔ راځي

د جانان غم لیونے کړمه منصورهٔ
په ځان د دروغو مې باور نهٔ راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي جنتونه به بدل په شونډو
ملاکه خُله کښېنوه يوځل په شونډو

رشيد[1] په مچ مجروح[2] په سترګو ډېکي
هيڅ اوسه نه ليسکه تکل په شونډو
په تخيُل کښې لېونتوب را واخلي
کله څڅ رامي شي غزل په شونډو
غاصب مي څكه ګنهګار سولي
مانه دې پاتې شيش محل په شونډو
پرون يې ماته وسپل ځنبل ګناه ده
ننن يې شراب څپله بهيدل په شونډو
غونې زيګ شي په ماورپيښيږم
اجمل چې خُله بدم د اجمل په شونډو

1- مامون رشيد رشيد    2- مشتاق مجروح يوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منت د ساقي جام دے
ميخانې ته مې سلام دے

موږ د ژوند په ژرنده دل يُو
که کور ګران دے خو ناکام دے
داچې يو سبل پسې ژاړو
دا پښتو ده دا اسلام دے
په ممبر باندې چې ناست دے
هم ساقي دے هم امام دے
داچې لاس کښې ئې جام دې
بوډا شوے جوړ خيام دے
اريانه چوک کښې زوړند دے
په منصور هاغه الزام دے

يار مقطې نه مخکښې ووې
د پاګل منصور کلام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښکلي په لټون کښې مې خيالات خواره واره شول
رول کهٔ لږ شان کم وو خو اوس زيات خواره واره شول

جانانه ستا دولت، زما غربت او دَ عشق په لار کښې
شي ګرانه به کهٔ د غه تضادات خواره واره شول
وطنه وايه څنګ به مې له تا نه زړګې ښهٔ شي
منکري چې مې تمول په امارات خواره واره شول
ما وې يار ته به يو، يو سوال کوم چې سبا شي
بېګا چې په ماغزو کښې مې سوالات خواره واره شول
ما بڼه مې اباسين ته په سګو کښې داسې ووې
تنها شوم چې تمول ښکلي په سوات خواره واره شول

جانان به ئې هم اوري هم بې وائي په سرو شونډو
منصوره کهٔ نرې کښې دي ابيات خواره واره شول

پښته ۹۳-۳-۲۳

خپل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه چې څان ستا په جمال کښې ورک شي
لکه د ستوري نور هلال کښې ورک شي

تسبې د لاسو نه څي او غورځيږي
زړه د مستو حورو خيال کښې ورک شي
زما زړګے څه ليونے غونډې دے
يار سره هم په قيل و قال کښې ورک شي
يار مې رقيب ته وئ پروا مه کوه
دا ليونے به پشکال کښې ورک شي
ستا د جلوې د ليدو تاب نه لري
کنه مئين دې په وصال کښې ورک شي

د چا څنګل وربل کښې نه دوکيږي
منصور د غونډې زنې خال کښې ورک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا زلفې لوُیول هم فنکاري ده
د چا شونډې ښکلول هم فنکاري ده

د حسینو ژړول هم فنکاري ده
د حسینو خندول هم فنکاري ده
تش دا نه چې ارمان اووژني فنکار شي
د انځوبونه تینتول هم فنکاري ده

ګوانه دا ګوډې د هرچا ړزده نهٔ دي
بلا زړونه دړدول هم فنکاري ده
یا رب ګاه خندا کښې ووئیل منصور ده
ستا په شان غزل لیکل هم فنکاري ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه د کلي ما ځیګر پیا تې شو
هغه منګے هغه ګودر پیا تې شو

خنګه منزل ته ذر ور ورسیږم
چې نیمه لاره کښې د سبر پیا تې شو
آخر پښتون یم مېلمه څنګه وشرم
د یار غم کور کښې د ځیګر پیا تې شو
اشنا زما د سره کوز نهٔ کړلو
د عشق پېټې مې په سر پیا تې شو
هسې نه خلق پرې خبر شي سبا
ستا د کور خوا کښې مې څادر پیا تې شو

پیا ګل منصور په جانان هر څهٔ بائلهٔ
تش د لفظونو جادوګر پیا تې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورتلو یم څو د را تلو نهٔ یمه
ځکه د یار چم ته د تلو نهٔ یمه

اختره پام کوره په ما را نهٔ شي
لا د اغیارو د سیالو نهٔ یمه

سترګو مي سترګو نه شراب څښلي دي
ساقي عادت دي د پیالو نهٔ یمه

خله مي سورے اوس په ګټو اولي
اوس دي د ذرهٔ نه د وتلو نهٔ یمه

منصوره ما باندې ازمېښت مه کوه
ستا په شان دار ته د ختلو نهٔ یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس که د وفا سندرې مه وایا
چپ شه بې وفا سندرې مه وایا

یو ځل مې د زړه نه رو با سلې دے
بیا بیا ته د اشنا سندرې مه وایا
دا مې سرمایه ده د دې سترې ژوند
څه وایې چې دا سندرې مه وایه
غلې شه ساه واخله په توله کلي کښې
جوړه شوه غوغا سندرې مه وایا
ځکه مې ماته به ژبه چاړې د به ده
یادوې چې زما سندرې مه وایا

نن ګل مخي دا سې وې منصوره چې
تماکړمه رسوا سندرې مه وایا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته زړګې د سترګو رپ کښې ورک شو
دا لېونې د سترګو رپ کښې ورک شو

زما د کلي ښکلا پاتې نهٔ شوه
ګودر منګې د سترګو رپ کښې ورک شو
چې زما برېښو سره رو نغښتلو
ستا مینځګې د سترګو رپ کښې ورک شو
بېګاه چې ما پرېښه خُله کېښوده
سُورا تنګې د سترګو رپ کښې ورک شو
یار چې لا ګُل زلفو کښې اېښې نهٔ وو
چې پسرلې د سترګو رپ کښې ورک شو

چې ما منصور د ځانه خوښ ګڼلو
هغه لالې د سترګو رپ کښې ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دې مړ چېچه غاښونو کښې پاګل به مې کړې
سپوږمۍ مخ پټ نکړې لاسونو کښې پاګل به مې کړې

کله ز غمې شم ستا ځند ا د رقیبانو سره
بیا راله مړ را څه خوبونو کښې پاګل به مې کړې
راته په خط کښې د اغیارو ذکر څهٔ له کوې
پردي وطن پردو ښارونو کښې پاګل به مې کړې
دومره عادت دې کړم جانانه چې کمې رونهٔ کړې
په خپل ستم خپلو ظلمونو کښې پاګل به مې کړې
زړګیه مړه دې منم خودا زما واوره چې
ګلونه هېر نه کړې دړدونو کښې پاګل به مې کړې

ساقي منصور یمه شراب غواړم خمار غواړمه
راته روبهٔ ماڅوڅ جامونو کښې پاګل به مې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظم

# "ګُل"

ته مې د زړګي ګل يې
ته مې د پټکي ګل يې
مانه ورکېدے نه شې
ته د پسرلي ګل يې

ستا وُنه چنار چنار
ستا ژوندون خُمار خُمار
ستا خندا بهار بهار
زړهٔ زما بیمار بیمار

ته د لیونې ارمان
ته د لیونې ګل يې

خوند دې زلمیتوب کوي
خوند مې لیونتوب کوي
زړهٔ په زلفو خوب کوي
سترګې مُسکیتوب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دې غوټۍ غوټۍ
یاره ګلابي ګل دې

سرې شونډې انارلرې
ګل ورين رخسار لرې
تور اوربل تار تار لرې
غاړې باندې هار لرې

ما منصور دهوکه نه کړې
وه ګله واقعي ګل يې
ما نه ورکېږې نه شې
ته د پسرلي ګل يې

چې مې په ښه نه راځي
نوم يې په خُله نه راځي

ما درته وويل کنه
مړه هغه نه راځي
هغه معلوم دے ما ته
په نيمه شپه نه راځي
مونږ ه قتل ساندې وايو
مونږ له ټپه نه راځي
ياره کله هم څه ووے
ماله غصه نه راځي
پښتې به مې ماتې شي خو
ستا په کوڅه نه راځي

منصوره ستا په وړاندې
خدا ښکو ګيله نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساه

چې دې وینم ویلې کېږم چې دې نۀ وینم سوزېږم
زۀ ترکومې به سوزېږم زۀ ترڅو به ویلې کېږم

زۀ د ژوند او مرګ په داسې بريد ولاړیمه زړګیه
کۀ ساه اخلمه قتلېږم، کۀ ساه نه اخلمه مړکېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "حسين جنت"

نن بۀ هر يو چوپال سوزي
نن بۀ هر بچے ژړېږي
هره پېغله بۀ سر توره
د سر تاج به کټ غورځېږي
د مور پلار به مخ کښې ياره
زوے به سرو وينو لمبېږي
چې د کوره وتې نۀ وه
هغه پېغله سرتورېږي
پښتون ورک پښتون تالا شۀ
د نجيب سنګر ورانېږي
خدايه ولې، خدايه ولې
په موږ دا ظلمونه کېږي
د دوزخ په سرو لمبو کښې
دا حسين جنت سوزېږي
هر ځائے چغې دي سورې دي
زما هر چوپال ورانېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ګُل د وطن شو خاوري
ګوډی هاغسي چلیږي

زلمي سره ښار سره کښي
خپل وطن ته وادهٔ کیږي

نهٔ خو ډول شته نهٔ سُرنا شته
نهٔ زما پیغلې ګډیږي

د رقیب په ساز شونو
پښتون هرځائ تالا کیږي

نو خدایه ولې، خدایه ولې
په مونږ د ظلمونه کیږي

د دوزخ په سرو لمبو کښي
د حسین جنت سوزیږي

پیښور ۹۷ – ۳ – ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو د ستم په لاس وهلي يو مونږ دواړه
حسينو په دردمن زړه دردولي يو مونږ دواړه

څه چا زمونږ په غم د خوشحالۍ ټمبل وهلے
د څه چا په خفګان تل ژړيدلي يو مونږ دواړه

رېبار رو ما ديار د کور څنه پرېښودې نه ده
رقيب که د جانان چم کښې کنځلي يو مونږ دواړه

زما مخکښې جانان ته د جانان په مخکښې ما ته
کنځل مه کړه يو بل ته نازولي يو مونږ دواړه

تش نوم مو يو شان نه دے په کردار کښې هم يو شان يو
منصوره يار له درباندې ختلي يو مونږ دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقو شراب څښل تا توبې ووېستې
څکه ساقي د مېکدې ووېستې

زه دې خبر نه کړم دوالوتلې
څنګه په چل چلکنې دې پسې ووېستې

شیخ چې د ترکو په محفل ورګډ شه
روګوره غاړې نه ئې تسبې ووېستې

غربته روک شې دلاسه هغې
راته د لاسونه کړې ووېستې

تا به منصور غوندې په دار وخېژې
که دې جانان نعرې ووېستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماڼۍ

وه د کالام غیږه کښې لوړې شوې یه
خوب وینم که ته وې چې ماڼۍ ته ځو

جیب کښې یو پیسه درسره نشته دې
هسې تش په خوله وې چې ماڼۍ ته ځو

زه درسره لار بانې قدم نا خلم
څنګه ته لاڅه وې چې ماڼۍ ته ځو

څنګه دې غخني نه کوکله شوې یې
بیا به راته نه وې چې ماڼۍ ته ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا وښل چې په سینه کښې مې ګوګل دے
دا ګوګل نه قتل ګاه ده سور مقتل دے

ته پرون سیرې کړېوان چې چم ته درا غلے
چا وښل چې ستا محبوب چا وې پاګل دے
پښې چې ستړې شوې نو زړه ته ئې وښل چې
ستا منزل ته زړه لا نور څومره سزل دے
ستا ښائست خو ورځ تر ورځه سېوا کېږي
زما عشق خو د غربت په ژړنده دل دے
زلمیتوب ته د سرو شونډو ارمان پرېږده
دې ارمان مې ایله اوس اخستے پل دے
دا سې کس سره په لار باندې روان یم
چې د حق غوښتنه کړمه وائي غل دے
د غزل د پېرمخ تګ د عوېدار څوک دي
د غزل ژوندون په چا باندې غزل دے
د منصور غونډې په دار څوک زور نه شول
دېکوانه اوس د عشق قانون بدل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جټ یمه ساده یم کلیوال یمه
ته د ښیښې محل زه د چوپال یمه

ټولو ته یو شان ټول راته یو شان دي
ستورے یمه نمر یمه هلال یمه
اوسه پورې چل د وتو نه راځي
زړه چې اخته کړې په جنجال یمه
اوس مې ماتې اوسنه پوهه شوم
یاره باکمال یې بې کمال یمه
پاڼې مې غیرت د تاریخ ډکې کړې
نر یمه پښتون یمه ننګیال یمه
سر بېر، ګرېوان سیرې پښې ابلې پښې
ستا مینه کښې داسې په بد حال یمه

اوکړه ما منصور باندې زښېښت ګله
ستا د یاره دار باندې خوشحال یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوې کال دې مبارک شه

اوس په تلوکښې راغورځېږي
قدم اخلي وړ تا ورېږي!
د جانان ویښته سپینېږي
کال په کال چې بوډا کېږي
زه به خندا ورته وومم
نوی کال دې مبارک شه

د ګوشه ماشوماڼو
د بچي وسه د خوراکڼ
چې د ودې پسې ژړېږي
چې ئې خوله نه راټولېږي
زه به خندا ورته وومم
نوی کال دې مبارک شه

چې پالش پالش نغري کړې
ماله زړه زړې زړې کړې
په مخ او سنګې ئې بهېږي
د چا زړه ئې پرې نه خوږېږي
زه به خندا ورته وومم
نوی کال دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نرۍ نرۍ چاچۍ ږي
دا ورېږي ورېږي پاڅه ږي
د غنی نه چې دپېښ ږي
په جامو کښې نه ځېږي

زهٔ به خنګه ورته ووېم
نوے کال دې مبارک شه

دا چې ناست دے په بازار کښې
تولې خپرې په لويه لار کښې
څوک دده په حال خبرېږي
چې په دهٔ به څهٔ تېرېږي

زهٔ به خنګه ورته ووېم
نوے کال دې مبارک شه

نوے کال چې راروان دے
دې کښې مانه يار روان دے
يار چې مانه جدا کېږي
ورپسې مې زړهٔ خوږېږي

زهٔ به خنګه ورته ووېم
نوے کال دې مبارک شه

د منصور زړګے پاګل دے
دچا مينه کښې ګهاٹل دے
دم درود ېرې نهٔ چلېږي
بچې په يار پسې دردېږي

زهٔ به خنګه ورته ووېم
نوے کال دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې زړګي ته رانږدې جانان دے
په شانتې سپین د فالودې جانان دے

زړګیه بس که دومره مه خوږېږه
غبن کښې د لبږې شان مودې جانان دے

چې دې د زړه درنځ طبیب نه شولو
زما په خیالې بې فائدې جانان دے

پرون یُ ماته وښېل را سبه شه
نن شوه معلومه بې وعدې جانان دے

منصوره داسې ساقي جانان ووښل!
مُلا د نحوارې عقیدې جانان دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهٔ مستي مې راوستلے شي بهار کېږي
د زړه کې وېښي به اونولم ګلزار کېږي

ستمګره يارهٔ کله به لا درومې!
تور د سترګو مې سپينېږي انتظار کېږي

شهزادګۍ د شپېره غونږيه ما خبر کړې
د يوسف پښتان به حال شوم کړمار کېږي

کهٔ زموږ کلي کېښي داسې محل نشته
چا سپياکې دي تيلي ستاسو نبار کېږي

ماته يودي لېونے يمه منصور يم
فرق نهٔ کوم په دار او په دلدار کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپ به شم زړګیه اوس به خځه وایم
چاچاته حالونه به د زړه وایم

بیا جوړې رقیبو لمسولے دے
یار باندې مې بد ښکي که ښه وایم

زه چې ستا غمونو لار کښې پریښودم
اوس به کله چاته پښتانه وایم

سرې وینې روانې مې د زړې شي
چاته چې داستان د بېلتانه وایم

څوک چې پرده د زړه کښې خبرې کړي
زه منصور هغو خلقو ته مړه وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په رولیکم رنګین غوندې غزل سپرلیه
زمونږ په سیمه باندې بیا راشه یو ځل سپرلیه

ستا په ورتګ باندې محفل چې سپېرهٔ شوے ؤ تل
راشه روښانه که نن بیا هغه محفل سپرلیه

کهٔ وي ساقي، کهٔ جام، جانان وي بې لتا سپرلیه
والله چې نهٔ کوي قرار پکښې ګوګل سپرلیه

په کوم محل کمو مانړو کښې چې ستا هوا نهٔ لګي
خاورې دې شي هغه مانړۍ هغه محل سپرلیه

پرون رباب چې راله ستا د راتلو زیرے راکړو
لا یم تر روسه په انتظار باندې رجمل سپرلیه

د آزادۍ په ورځ    بنته ۱۴-۸-۹۳    سحر مال خیل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هله پوهٔ به رقيب په چل او ول شي
چې داخل زما جانانه په مقتل شي

تا ته هله به د سل احوال معلوم شي
چې سورې سورې د ننه په کوګل شي

اې صابره ته به څنګه صبر اوکړې
چې په ټوقو، ټوقو کښې يې د زړهٔ غل شي

مُلا جانه تا نه هم به جنت هېر شي
کهٔ اودهٔ چې ته د ښکلي په څنګل شې

ته اجمل پوره اجمل نهٔ يې اجمله
ته اجمل به هله شې چې سم اجمل شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ منصور یم زړهٔ ملال یمه د ترکو
هم په طمع د وصال یمه د ترکو

عاشق کښي به څوک کوم يو سوال وکړي
زهٔ سر سنګے د هر سوال یمه د ترکو

دُنیاوي کار سانه نهٔ کیږي یارانو
چې نښتے په جنجال یمه د ترکو

چې په مخ يې د ويښتو خطونه راشي
ډېر خنده په دغې حال یمه د ترکو

دا چې ما اجمل د ځان په څوا کښې کښېنه
محلتے او کليوال یمه د ترکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګی غواړي لا ل خوښې مې وکښې او وسېدل
نور نه کېږي زمانه اباد وکښې اوسېدل

پرېږده مه کړه زړګیه کهٔ د سخته پتا راغله
حسرت مې دے د یار تورو کمڅو کښې اوسېدل
روکېږه مُلاجانه نور دې نهٔ اورم وعظونه
د یار سره کوم به مېکدو کښې وسېدل
لږ ترس په ما اوکړه غنم رنګیه جانانه
ترڅو به زهٔ کوم ستا په کوڅو کښې اوسېدل
مظلوم بانډې چې ظلم ته غیرت وائي ملګرو
حُم نور نهٔ کوم د لته پښتنو کښې اوسېدل

منصوره لیونیه ځان په یاربانډې قربان کړه
کهٔ غواړې د منصور په شان زړګوټه اوسېدل

یادګیرنه: دا غزل ما د ټي وي پروډیوسر مسعود شاه صیب
طرخه: اے عشقه زړهٔ مې خوښ کړل په سرمو کښې اوسېدل په طرخه
لیکلے دو - ښتهٔ ۱۹۹۴ء

کله کښېږي د اسې بل چې ځان له يار کړم
ستا نه نهٔ شم صبرېد لې ځان به خوار کړم

دا زما کم عقلتوب نهٔ دے نور څهٔ دي
ښکلي يار مې تل تېښ باسي زهٔ اعتبار کړم
رنګ مې زېړ وي ښېښي مې رپې په بد حال يم
ستا په وړاندې ګل مخيه چې ګفتار کړم
چې يو ځل وائې زما نامه وا غلي
لېونے يمه بيا هم دلدار دلدار کړم
پرون تهٔ هم زما مل وې ماسره وې
فتوې کړه نن دې ولې ګنهګار کړم

منصور دې بانديې خوشحال يم ته ګرم نهٔ يې
چې نړۍ کښې دې د ښکلو توبه ګار کړم !

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه پیکه غونده کښې شپه ده
څو یارخوا کښې دے څوښه ده

ستا د زړه نه به اوښه ځي
زما مینه پښتنه ده ! !
څه ورځم د یوې بلوه
ستا فرقت کښې شوګیره ده
زما خلے کښې د یار نوم دے
رود شیخ په خله توبه ده
زندګي زمونږ ه څه ده
یو غزل دے یو ټپه ده

یار دې راسره کړلو ربه
د منصور دغه ګیله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما زړۀ زما ځیګره څۀ شوې
زما د زړۀ نه ناخبره څۀ شوې

زۀ خو ژوندے یم ستا د مینې په نوم
د بیاکې مینې نه منکره څۀ شوې
په هغې لوېه ورځ به اور کښې سوزې
وه د مونځونو سوداګره څۀ شوې
صبا به هر ځائے کښې دا پېغې آورم
اخر د لفظونو جادوګره څۀ شوې
ښښته دے پېغلې نۀ منګې به ترخ کښې
زما دخوار کلې ګودره څۀ شوې

چې دې زما په زړګي لوبې کړې
واۍ منصور چې ستمګره څۀ شوې

میاشتنی ریکوال
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بیا څه کوم د روم و شام ښکلي
خوا کښې چې مې وي د بټګرام ښکلي

چې موټره چا سره یاري نه کړي
داسې اموخته شول د اسلام ښکلي

ما سره که تا یاري پالـلې وه
اوس به په دنیا نه وو بدنام ښکلي

سو بڼ خو په کنځلو کښې هم نه یادې
نور خو کوي هر چا ته سلام ښکلي

دا چې وعده اوکړي بیا ئې ماته کړي
دا منصوره دے زما د قام ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "زما ژوند"

---

زمانه نور زما د محبت پښتنه مه کړئ
پتنګ په شان مې سوزېدو کښې مې ژوندون دے

رقیبه که هر څه اوکړې صبر و لے مې ترې نه شي
ددې کوڅو ملنګ یم دې کوڅو کښې مې ژوندون دے

زما د لېونتوب به درته څه اووئیم جانانه
نه مړو کښې حساب یم نه ژوندو کښې مې ژوندون دے

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يې شم چې ورکولے هغه شے غواړي
مانه مې زړګے د چا زړګے غواړي

اوس به ښځه په نره مزدوري کوم
ګل چې اوسېدو له کور کے غواړي
دا ستا په دولت ستا په محل نه ده
مينه صفا زړه صفا تندے غواړي
وينه د زړګي دې پرېښه اوشيندې
څوک چې په خپل کلي کښې سپرلے غواړي
څنګ به يارانه ورسره اوپالم
هر ماښام چې خوله کښې رنګے غواړي
سل ځله مې اوباسه د زړه نه خو
نه صبرېږي بيا هغه سړے غواړي

ژوند يې ورله ټول خاورې ايرې کړلو
اوګوره منصورته بيا هغے غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په يارئ کښې بلا زړونو لمبې واخستلې
د بلا خلقو ایمانونو لمبې واخستلې

ځان ته په کمه خُله مالیار وائې زه بوی نه شوم
چې دې گلزار کښې سروگلونو لمبې واخستلې
ته خپل محل خپلې ماڼئ کښې خټک خوشحال روسې
زمونږ د خوارو گرېوانونو لمبې واخستلې
په تاسو هیڅ نه کړې اثر د بساړې دړده خلقه
زه کابل کښې چوپالونو لمبې واخستلې
مخ په نقاب کښې پټوه نا ترسه ظلم مه کړه
ستا په لیدو نحو نظرونو لمبې واخستلې
ستا د وصال په طمعه طمع په ماڅه روز نه شول
په ژوبل زړه کښې پرهرونو لمبې واخستلې
چرته به ناستې وې قیصې د درخانۍ به کوې
کوڅې به رتې دې تنورونو لمبې واخستلې

عجیبه کار دې چې په تا هډو اثر نه کوې
د منصور آه سره دارونو لمبې واخستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره ساده توب کښې دې هوښيار کړمه
ګله ! تا د ښکلو توبه ګار کړمه

را شه چې نن دا خبره پېښه کړو
زۀ به دې ترکمې انتظار کړمه
ما ته جوړه دپاسه پیا ګل نښته دے
تل په غم رنګوې چې اعتبار کړمه
کمه بې رُخي ئې درته اوستايُم
کم، کم ستمونه به ئې شمار کړمه

ما ته ئې خپل ګناه په ګوته نه کړلو
زۀ منصور ئې بې ګناه په دار کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږم چې ما پرې کړې اعتماد دے
خبر نهٔ وم چې بُلبُل نهٔ دے صياد دے

چې له تانه بېله کور بغېر د مُوره
ستا په سرخوې دزړهٔ چو پال آباد دے
زهٔ چې ستا کوڅې ته راشم په قرار شي
ورته زړهٔ مې هر ځائے کښې ناښاد دے
چې دا نهٔ وي پښتو څهٔ پښتانهٔ څهٔ کا
پښتنو کښې څو د کار شے اتحاد دے
هيڅ اثر پرې زما آه و فغان نهٔ کړي
زما څخکښې زما څېل اشنا شيداد دے

وه رېباره نن پاکل منصورته وايه
ستا د لاسه مې ژوندون تباه برباد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر به شي په خپلو کړو پښېماني قاتلانې
ترڅو به ارمان وړني قاتلانې، قاتلانې

نازونه قاتلان او ادا کاني قاتلانې
ځوند ے ارمان مې وړ ني خنداکاني قاتلانې

منت درته کوم کو رے له مانه لرې نهٔ شې
زړګے مې خوښوي ستا سو پښاني قاتلانې

اثر پرې سته کلا به زما آه فغان نهٔ کړي
بوځي مې قتلګاه ته بې ايماني قاتلانې

منصور د دار په سرچغې وهي اوداسې وائي
دې نه سپوانشته سزا کاني قاتلانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادان زړګې مې ستا دیدار غواړي
بیا سوزېږه په سور انګار غواړي

مُلا صیب شایه دم درود روښانیه
نیسل د تورو زلفو مار غواړي

سترګې یو څهٔ روزړګې بل څهٔ وائي
زړګې قرار سترګې خُمار غواړي

په غوښتو نه په رخستو به کېږي
څوک چې په خپل کور کښې اختیار غواړي

لږ ورته اوګورئ رسۍ په غاړه
منصور د دار په سر دلدار غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزړهٔ په کور کښې مې لټولې ګله چېرته کښې وې
ما دخپل درد سندرګولې ګله چېرته کښې وې

ستا په سرو ایه ما د کوم ازمېښت نه تېښته کړې
دنیا مې نه ته ٔ مې خپلولې ګله چېرته کښې وې
ټیکه بنګړي پانزیب مې وا چول وربل مې خورشو
ما ته راستولې وې همزولې ګله چېرته کښې وې
قسم د مینې په پاکیزه مقدسه نامه
ما په قدم، قدم یادولې ګله چېرته کښې وې
زهٔ بېونے ووم د وفا په مطلب څهٔ پوهېدم
جامې مې ستا کوڅه کښې شلولې ګله چېرته کښې وې

منصوره پرېښ ده دیوې خبرې راکړه ځواب
چې په ما یې خاورې امبارولې ګله چېرته کښې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې نه دي درځي څواله غټې سرې دے
څوار زړګیه جوړې ستا خوښ شوے دے" دے"

د جانان مخ ګلستان بریتې ازغي دي
د ګلاب په شان ئې یو یو اسنګے دے

پښتون یاره د دمې خبرې مه کړه
وخت په منډه رانه زغلي ګرندے دے

څه که عمر ئې اوږد یا کلونه تیر شه
لا ئې څو فکر د بزمي بابا زلمے دے

زما بدې شي او څوا ته مې کښېنې
دا منصور څو عجیبه شان لیونے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرګرو بس کړئ د وفا سندرې خله وای
د لته د مینې او ښکلا سندرې خله وای

زه خوږ زړه ستړی یم یارانو په قلارۍ پرېږدئ
ما ته د جام او د مینا سندرې خله وای

په داسې رنځ باندې اخته یم چې طبیب جانان دی
د درد، پرهر او مسیحا سندرې خله وای

رندانو نوش کړئ سر مې خوږ مازغه مې ځوروي
خمار، خمار یم د اشنا سندرې خله وای

زما په ژوند چې منصور نوم په تاسو ښه نه لګید
زما په مرګ باندې زما سندرې خله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنم رنګے دے که تور دے او که سپین دے
ماته خو یو د یوسف پشان حسین دے

دا زمونږ د باغ غوټۍ په فریب وژني
د مالیار لباس کښې راغے نو ګل چین دے
څۀ پرون نو باران لاړو وه کنډې کړې
اے رېباره نن به راشي اسمان شین دے
خاورې ژوند کښې د مستۍ سندرې وایم
دا سبق راته ښودلے اباسین دے
ما پرون وئيل چې نوم به مې ترې هېر شي
لا ترا وسه ورته یاد دے یار زهین دے

دا شنا د خلې کنځل ته چرته رسي
کۀ غزل د منصور خو ډېر رنګین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان په ستر شو د کوره بهرنهٔ را وځي
کهٔ د رقيبو د پېغوره بهرنهٔ را وځي!

ستا اواز پېژني پېښې د ملنګۍ مهٔ کوه
روک شه رقيبه سپکه سپُوره بهرنهٔ را وځي
د ښار ماڼۍ د لوګو ډک بازار زمانه لګي
هغه د ښار د لوګو شوره بهرنهٔ را وځي
زما مثال لکه د مرۍ د بے دیار مینه کښې
سرے په خپله د خپل کوره بهرنهٔ را وځي
دا یو ویشتمه صدۍ څهٔ کهٔ دوه ویشتمه راشي
خو پښتنه ګورے سرتوره بهرنهٔ را وځي

ساقي وېل چې دا منصور را ته پیاګل ښکاریږي
په رضا څهٔ کوي په زوره بهرنهٔ را وځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم مې ارمانونه ستا کاته وړني
هم مې ستا قاتلې سترګې زړه وړني

خدای خبر په روی باندې چاخه اوکړل
کوره پښتنو ته پښتانه وړنې
تا چې مې یادونه زړه کښې ووړل
کوم پښتون په کور میلمانه وړني
تاکه د زړه راز ووې په دار شولې
ما به هم د یار په طرف تله وړني
تا ته ګناه نشته دې پروا مه کړه
ما خو د خپل زړه د خپل ماغزه وړني

څه کنه هغه خو انا الحق ووې
ما څه کړي ما منصور په څه وړني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "سمن"

د انور سید چراغ لوړ

خدائے دې لویه کړه بلبلې
مور او پلار ته نازولې
د طارق په مینه مستې!
د بخښو د زړهٔ غندلې!
د بابا په څنګ کښې ته هم
فرښتو نه ښکلې

کاش که ستا په شانتې ګل هم
زما کور کښې او سېدلے

اے روبړې اے نازنینې!
اے سمن اے ګل رنګینې
ته په خپله یې ستکه پېنه
بیا جامې مهٔ اچوه سپینې
د بابې د زړهٔ قرار یې
د انور د بدن وینې

کاش که ستا په شانتې ګل هم
زما کور کښې او سېدلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښو تا ته خوشحال بڼې

چراغ ستا نه چاپېر بړي
ګلان ستا په څوا کښې خاندي
سپرلے ستا طرز ته ګوري بړي
اے سمن د هر چا زړهٔ کښې

بس دا یو حسرت وسېږي

کاش کهٔ ستا پښانتې ګل هم
زما کور کښې روسېدے

تهٔ یو ګل یوه غوټۍ یې

یو حسینه لونګۍ یې

د حسینو نه حسینه

د رګ کلي شهزادګۍ یې

ستا خندا سره سپرلے شي

څهٔ عجیبه ښاپېرۍ یې

کاش کهٔ ستا پښانتې ګل هم
زما کور کښې روسېدے

اے زما د زړهٔ ملګرې

اے سمن اے جادوګرې

ستا تصویر د مینې جوړ کهٔ

اے د مینې انځورګرې

ستا منصور په تا قربان شه

اے روښرې اے جادوګرې

کاش کهٔ ستا پښانتې ګل هم

زما کور کښې روسېدے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي نخوابږهٔ خوابږهٔ مې د قيصې خلق
څهٔ رنګ دي لا ستا د بنارې خلق

تا چې مې ريبنې ريبنې کړېوان ګنډهٔ
وو په تماشه ټول د محلې خلق
تهٔ چې ما سره په خندګ کېنې او دېږې
يم حېران په څهٔ اخلي لمبې خلق
يو رقيب خونهٔ دے چې به پوے شي
خندګ به پوهوم دې د کوڅې خلق
يو ارمان ئې دوي له پوره نهٔ کړلو
څله کړي خدا يا نو ته سجدې خلق
دا راته د حورونه خوابږهٔ دي زيات
دا زما د کلي بې اسرې خلق

مرګ نه د منصور رو ستوبه او کوري
هر ځائے کېنې ئے او ستائي نغمې خلق

وخت تېرېږي نه خپل کور کښې په ترخې خُلې
شي تمام جهان خوږ لے په خوږې خُلې

هر يو کس به ستا د ظلم مخ نيوے کړي
وه ظالمه ته به چا چاله تېرې خُلې
آه زړګيه تا ربښتيا وې زه پياګل وم
بې دستوکه نه سمبېږي دا کږې خُلې
د انصاف طمع به څنګه تربنه اوکړو
چا چې کړې زمونږ په وينو باندې سرې خُلې
زه د لادو بادو پرېوتم زړه مست دے
نه هېرېږي مې سرې شونډې او د مې خُلې

چې ښاسته ګلاب مستي کړي زړه کښې وايم
کاش چې ښکل ئې کړم منصوره په دې خُلې خُلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "لږ شانتې صبر اوکړه"

نن تور کارغه چې د بلئ د پاسه کان کان کول

نن چې سټکوي مې خوږ لے د دُرشل د پاسه

ساته خه پته وه جانانه چې به ته را درومې

ما خو نه سرد ےکومنځ کړے نه مې لاس وینځلي

زه خو لا هاغسې د بوال باندې خوپیا کې تیم

خوږه جانانه د وفا په خاطر صبر اوکړه !!

ته ورشه کښېنه د چنار لاندې شپېلۍ غږ وه

زه به جامې اووینځم ځان له به ګمځې اوکړمه

ته به شپېلۍ کښې غږ وه مې د ښائست سندرې

زه به غویان پېټي ته بوځمه ګیا به اوکړم

ته را پسې روستو چوکه په لاس را منډې وهه

په شنو وابنو کښېنې به او دهٔ شوغوان به موږ اوتړو

ته به شپېلۍ غږ وې زه به دې ستا ئم تېو کښې

خو

لږ شانتې صبر اوکړه دا سوپیاکې بره کېږدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ پوه نهٔ شوم خوار نصیب دې راله څله راکړو
خوار خودې کړم ذهن ادیب دې راله څله راکړو

چې دې مشین کړم ستا منته خو تپوس کنوُمه
په محبت کښې دا رقیب دې راله څله راکړو
بېګا د موږ نه پس یو خان دُعاکښې دا سې ووې
شاهي وطن کښې دا غریب دې راله څله راکړو
هم مې ارمان قتلوي هم مې پرهرونه چیړي
قاتل جانان، هوښیار طبیب دې راله څله راکړو
دلته شراب او څښم کهٔ واورم د خطیب خبر ې
خدایا یو ځاے شراب خطیب دې راله څله راکړو

مُلام کړې ناسته د رقیبو په تولي کښې ربه
منصور حیران یمه حبیب دې راله څله راکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ستا خوښ نهٔ یم ستا د غم خوښ یمه
بغیرلتا د ټول عالم خوښ یمه

ستا په سر هر چاله ښبګړه کوم
ځکه خو زهٔ دې د ټول چم خوښ یمه

مانه بغیر په چا ستم نهٔ کوې
خو زهٔ ئې هم په دې ستم خوښ یمه

قسم دې کړې مانه نهٔ جاروځې
غربته زهٔ دې جوړې سم خوښ یمه

پچې د رقیب په سر څهٔ ویلې نهٔ شم
منصوره ځکه د صنم خوښ یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قتل یې کړم خو قاتلانې نهٔ شوې
سترګې په خپلو کړو پښېمانې نهٔ شوې

چې د هغهٔ نه مې ځان او نغاړلو
ښپې پرغنډو پـله روانې نهٔ شوې
زړهٔ مې بوډا شهٔ نظر کار پرېښودهٔ
مراوې د ښکلې اداګانې نهٔ شوې
ما هر قدم ستا د قدم پشان کړو
افسوس دے تهٔ زما پشانې نهٔ شوې
ژندګی څهٔ کوې ځوانې ختمه شوه
ختمې دې یاره سزاګانې نهٔ شوې

منصوره هسې دې ځان رو باسلو
د محبت لارې روښانې نهٔ شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکې مې په مخ باندې راماتې شوې
تهٔ چې د وفا لاره کښې پاتې شوې

اوس به د مُلا دخوانه پاسمه
بیا د محبت سندرې زیاتې شوې

ماچې پکښې خاورې په سرنوشتې وې
سن هغه کوڅې زمانه پاتې شوې

نهٔ پخلا کېدلو نحو مجبوره شو
اوښکې چې اشناته ننواتې شوې

کړې منصّور خبرې د رقیب دچم
ځکه یې حوصلې د زړهٔ میراتې شوې

زه ګنهګار یم ما ګناه کړې ده
چې مې ګل رنګ سره وفا کړې ده

زه د هر چا په غم سلګۍ وهم
هر چا زما په غم خندا کړې ده

ما ته يې خبرې د ځواني مرګ کړې دي
ما ورته ټول عمر دعا کړې ده

اوس راله سر باندې لاسونه راښکي
چا چې زموږ د سر سودا کړې ده

څنګه په دار يې خېژوي او کنه
منصور خو هاغه ګناه بيا کړې ده

زړګے مې نهٔ لګي د یاره اوس په دې کلي کښې
زړګے به څهٔ ولګي نشته دے زړګے کلي کښې

چې ستا د ښار په دروازو باندې نه شومه
ما نه شو پاتې هغه شور هغه منګے کلي کښې
یار ته سلام نه پس د یاره در سي ووایه چې
بغیر له تانه ایسار بېنې نه سپرلے کلي کښې
ستا انتظار باندې به ژوندن ستا په کوڅه کښې تېر کړم
زمانه نهٔ دے پاتې هیڅ پوله پټې کلي کښې
صبا په لوے سفر روان یم مروره یاره
اوګنهه دا مې اخیري ماځیګرے کلي کښې

زما یقین دے څکه نهٔ د اخُم منصوره یاره
د یار غمونه به مې زړ کړي لېونے کلي کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د سرو شونډو ارمان به مې پاګل کړي
ډېره زړه چې نادان به مې پاګل کړي

ځکه نه د رحم اشنا زما یقین دے
ستا د کلي ماشومان به مې پاګل کړي

زه بې څښکه پوهوم نه پوهېږي
دا ساده باده جانان به مې پاګل کړي

لږ په ده باندې هم روښنه چې نشه شي
ساقي جانه ملاجان به مې پاګل کړي

څه پاګل زړګي پاګل کړم منصوره
څه چې مخي دجهان به مې پاګل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ شاعریم د ښائستونو طلبګار یم
د سپرلي او سرو ګلونو طلبګار یم

زهٔ په ځوانۍ د ځان کړم د وخت ژړندې
خوزهٔ اوس هم د جامونو طلبګار یم
د رقیب سره جنګونه مې یادیږي
ستا د مینې د جنګونو طلبګار یم
چې مدام را سره ستا په ځای یوځای وي
ستا د یاد ستا د غمونو طلبګار یم
تورو زلفو دې ژوندون راله ایرې کړو
ستا د شونډو د سرو نو طلبګار یم
ما رو تا چې پکښې یو وو کهٔ هغه وي
زهٔ په ویښه د خوبونو طلبګار یم

پروا مهٔ کوه رقیبه یوځل نهٔ دے
زهٔ منصور یم د دارونو طلبګار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکه ماشوم چې بناریه کښې ورک شي
داسې مې زړه ستا ننداره کښې ورک شي

چې د ګل مخې مخ ته او ګور مه
زما دردونه په سینه کښې ورک شي
چې ستا د زلفو په ځنګل کښې ورک شم
سکه مبلمه چې توره شپه کښې ورک شي
مونږ چې اوښنو ډیله خود کښې راشو
زاهد چې اوښښي میخانه کښې ورک شي
بیا ورسره تاله وفانه بنا ئحې
زما رقیب چې ستا کوڅه کښې ورک شي
د نوي دور دیار به څه اووایم
راحت کښې راشي په غومه کښې ورک شي

د منصور یار به څو په زړه کښې وي ستا
ځلے چې زوړ شي مقبره کښې ورک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورک نهٔ شي

ګل د دوارو سترګو تور، که چېرې ورک نهٔ شي
یا بهٔ ګل غوندې سمسور که چېرې ورک نهٔ شي

په صحرا باندې روان بهٔ د یار غم دې
یا سندره که یا شور که چېرې ورک نهٔ شي

وه رېباره دا زما دا شناکور دے
ورته دوه سترګې ځلور که چېرې ورک نهٔ شي

زړهٔ وي خبر کهٔ هر څهٔ ورک شول پروا نشته
د یار غم په اوږو سور که چېرې ورک نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې د سپينې مينې تور وانخلي
زړه به مې ستا په زړه کښې کور وانخلي

پام کوه سترګو له زور مه ورکوه
د زړه د دنيا مې چې رته اور وانخلي

دده په مړ وجود به څه تبر بڼ يې
چې يې قدم په څوا د ګور وانخلي

د لسته به څنګ غريب په خېټه موړ شي
چا نه روږدې چې قرض پور وانخلي

د نوي دور ښکلي به خپل دې کړي څو
ستا په سر هيڅ چېرې به تور وانخلي

بيا څو منصور نه دے دروغ به وايي
ګل نه چې يا مې خوله په زور وانخلي

په کومه خوله به ځان ته وايي منصور
چې ستا په مينه کښې پېغور وانخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یار سینه خُله منه ده
زما مینه هم رښه ده

د بوسې سوال مې ترې وکړو
یا غږ نهٔ کړې یا کنښه ده

ما به غرق ما به تباه کړي
چې عادت په چیښه ده

یو ما بڼ ته ختې نهٔ شي
بل دې یو یو سر پښه ده

ستا د زلفو د باد وړاندې
د منصور مینه بښه ده

د زړهٔ په کور کښې يار ساتم خو لېونے نهٔ ساتم
صفائے وو ښل چې نور په زړهٔ کښې دے نهٔ ساتم

بغېر د يـاره چې په ما باندې د ځانه ګـران دے
رقيبه زهٔ د زړهٔ په کور کښې بل سړے نهٔ ساتم

د جانان کروتو کروتو بربښتو سره او نهٔ نخلي
د دې د يرې نه په پوزه مښکے نهٔ ساتم

تا سره مينه کوم مينه د رنه غواړم ګُله
د زړهٔ په د شته کښې د بغض بُزغلے نهٔ ساتم

ما د منصور نه چل زده کړے دے غرور نهٔ کوم
تندے مې روڼ وي چا ته وران ويجاړ تندے نهٔ ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته زما په نوم شرمیږې زه خوستا په نوم بدنام یم
دا سپی هیڅ به دې کړم ګله، څنګه تا ته چې ګمنام یم

زما ځان کښي د ذرې سره دا عادت چې شانه خوبږ دے
چې د ښکلو صفت کیږي ورته ناست په احترام یم

ساقي نیست دي راته خراب دے که او بوکښې نشه نشته
څنګ چې ومه په یو ځاځکي ساقي ها غسې په جام یم

ستا د مینې پړخ تنګ دے په مزه سره روان یم
هر قدم تکرې خورمه، غورځیدلے کام په کام یم

نه منصور خفه کومه نه جانان نه صبر بے شم
سحر تا ته په سجده یم دا شنا چم کښي ما بنام یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلے مانه نهٔ هېرېږي لا تر اوسه
په زړګي مي راورېږي لا تر اوسه

ځواني ختمه پټ پټهو نيے ختم نهٔ شو
زما يار مانه پټېږي لا تر اوسه

پوره کال تر منځه تېر شو ځلا نهٔ شو
خوا کښې غلے مي تېرېږي لا تر اوسه

محبت کښې د وصال پښتنه مهٔ کړه
ارمانو دسنه مې قتلېږي لا تر اوسه

دے
يم حيران چې منصور روغ دے که پاګل
بې وفا پسې ژړېږي لا تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد چې د چا ګوګل ته ونه رسي
هغه به ستا وربل ته ونه رسي

چې خپلې پښې ځان پسې خپله راښکي
څرې به نېږد منزل ته ونه رسي
رووایه ماله به خوب څنګه راشي
سر چې مې ستا څنګل ته ونه رسي
هغه به څه سړوي کم عقله یاره
چې ستا په نوم مقتل ته ونه رسي
شرط پرې کېږد وړ شناز ما غزل چې
ستا دې څلې کنځل ته ونه رسي

مړ به شي ستا د محبت نکات چې
ستا لېوني اجمل ته ونه رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان به څپله د ایرو غونډې ایرې کړې
وه زړګیه چې د ښکلو تذکرې کړې

په آسمان باندې ورېځې راخورې شوې
که حسین په سپین جبین زلفې خورې کړې

ځکه روس د غنم رنګونخوا کښې ګرځم
د جهان ښکلو رشتې راسره پرې کړې

چې په ښکلو پسې ګرځې ښکلې غواړې
لېونیه مابه زر، ذرې، ذرې کړې

ملا وکیل شاه دا بل منصور په دار کړې
چې جماعت کښې مې صنم، صنم نعرې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "هاغه زوړ اشنا دي یم"

څنګه روس مي پېژني
ښه ئې په غور راوګوره

هغه زوړ اشنا دي یم
موږ چي پټ پټ تو به کړو

تا نه چي ورک شوی وم
ما نه چي ورک شوی وې

روس دې خیال کښي راغلمه
ستا جوړې یادېږي نه

هاغه د روژو مابښام!
موږ چي الله هو به وې
سره د حجرې په ګُټ
موږ دواړه چي ناست به وو

څنګه روس څه پوهېږي
روس درته درياد شومه

پاسه راتر غاړه شه
وه مانه روک شوي یه

هاغه زوړ اشنا دي یم
هاغه زوړ اشنا دي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قابل

چې د چا زړهٔ ورته زړګے نهٔ ښکاري
هغه سړے د سوزېدو قابل دے

چې هر يو ښکلي پسې چے، چے کېږي
زما زړګے د سوزېدو قابل دے

# انا الحق

يو ويشتمه که ئې که هم انا الحق ووې
په قسم چې به ئې جټ خلق په دار کړي

منصور هاغه منصور نهٔ دے لېونيه
چې بے ستا غوندے کښې جټ خلق په دار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلیا شوم نهٔ کړم سنګ ، مني روکنه
ماپه خپل ځان پتنګ ، مني روکنه

بغیر له تانه څنګه وه جانانه
د زړهٔ محفل مې رنګ مني روکنه
چې ستا کوڅه پرې ګل ورینه شوله
زما د وینې رنګ ، مني اوکنه
ماپه د هلې هم باچاهي کړې ده
زما د توري شرنګ مني او کنه
چې راکوزاد شوم یار خندا کړې ووې
څنګه دستر کو جنګ مني او کهٔ نه
بې پښتو کس مولار کښي څنګ پرېښودهٔ
زمونږ پښتو او ننګ مني او کهٔ نه

دا خو مني چې زهٔ منصور ملنګ یم
په ځان زما قلنګ مني او که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وطن په نوم

وطنه ستا د ننګو غرونو نه زار که
ستا د صحرا ستا ځنګلونو نه زار ئ
ستا د وګړو سپینو زړونو زار ئ
ستا د زلمو د همتونو نه زار ئ

له تا لوګے له تا قربان وطنه
په ما دهر وطن نه ګران وطنه

زهٔ ستا په خاوره زېږېدلے يمه
زهٔ ستا په خاوره لوئېدلے يمه
ستا په نوم هرچا پېژندلے يمه
تا په قدم قدم کتلے يمه

وطنه
مونږ ئو په تا باندې ودان
سمسور دې ستا وي ګلستان وطنه

زهٔ ستا صحرا په لندن نهٔ ورکوم
خېبر په ملک د دښمن نهٔ ورکوم
زهٔ ستا کوځه په ګلشن نهٔ ورکوم
ښېښے د بل په وطن نهٔ ورکوم

رسوم ښېرغ دې تر اسمان وطنه
او چت دې ستا وي مدام شان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا هره لاره امریکه دد ماته
د جنت لار خو ستا کوڅه ده ماته
چې هره ژبه دې خوږه ده ماته
د رقیب څکه ستر که سره ده ماته

سنده او بلوچ، پنجاب افغان وطنه
ماته دي ټول رونه یو شان وطنه

که ستا تور غر دے که بولان دے
که تاتره که کوهستان دے
که ستا شند ورکه ستا بولان دے
ماته خو ټول یو پاکستان دے

ستا لوګے به کرم چیل ځان وطنه
اے د اقبال خوشحال رحمٰن وطنه

ستا په نوم هر ځائے کښې مسرور یم
تاته معلوم یمه مباتئوه یم
په تا بائلمه سر منصور یم
ټوله نړۍ کښې مشهور یم

زما خو دغه دے ارمان وطنه
چې دې ناوینګ کړمه ګوانا وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله باندې خپل کور کړلو وران زما زړګي
پېدا نهٔ کړو دیار زړهٔ کښې مکان زما زړګي

ملګرو په خوبونو، په خیالونو کښې مُدام
ښکل کړې د جهان واړه خوبان زما زړګي
دیدن له دې اشنا په ویرانو ګوره دړه دے
پرېښودے ستاد یاره ګلستان زما زړګي
زما دا پښتنه ساده باده مینه ملګرو
لاهو کړه په ښائستو د تږول جهان زما زړګي
زما اشنا نادان دے په یوه باندې پوهېږي
بېلے دے ړتمے په خپل دېران زما زړګي

زما منصور زړګي د دار رسئ په شونډو ښکل کړې
بېلات کړے د عشق په کوم میدان زما زړګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فطرت د ښائستونو طلبګار یم
د سپرلي او سرو ګلونو طلبګار یم

زه په ځوانه ځوانۍ د دل کوم د وخت ژړنۍ
خو زه بیا هم د جامونو طلبګار یم
تورو زلفو دې ژوندون ماله ایرې کړو
ستا د شونډو د سرو نو طلبګار یم
د رقیب سره جنګونه مې یادېږي
ستا د مینې د جنګونو طلبګار یم
ما او تا چې پکښې یو وُ که هغه وي
زه په ویخه د خوبونو طلبګار یم
چې مدام ماسره ستا په ځای یوځای وي
ستا د یاد ستا د غمونو طلبګار یم

پروا مه کوه رقیبه یو ځل نه دے
زه منصور یم د دارونو طلبګار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د وحشت په تورو شپو کښې سحر اونه لیدو

یار مې د کلي په کوڅو کښې سحر اونه لیدو!

دیار د هجر په دیوه باندې مې ځان اوسپړه

لکه پتنګ مې سرو لمبو کښې سحر اونه لیدو

ماته د ژوند د ښکلا څه پته ده څه ته وایې

ما د زندان تورو تیارو کښې سحر اونه لیدو

په سپین رخسار باندې یې زلفې لکه شپې خورې دي

نن مې د یار په رنګو کښې سحر اونه لیدو

بېګاه مې خوب کښې د رقیب ګریوان تار تار کړو ګله

چا په ریبنو ریبنو جامو کښې سحر اونه لیدو

موږه ټکرې د ژوندون په هر ډګر رانخوړې

موږه په دې سپېرو تندو کښې سحر اونه لیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وصیّت منصور

ﭙﺠﻲ کله مړ شمه زهٔ
نو ما په خاورو بنخ کړئ
کهٔ سوزوئ مې کله
مهرباني اوکړئ دا
زما د تن نه زما زړګے رو باسئ
کهٔ بیا سوزېږمه زهٔ
خېر دے پروا نشته دے
رو باسئ زړهٔ مې څکه
زما خوږو ملګرو
چرته هغه اونهٔ سوي
ﭙﺠﻲ مې په زړهٔ کښې اوسي

دا وصیت دے زما
دا وصیت دے زما

یادګیرنه: دا پوره آزاد نظم ما د اردو ژبې دیو نظم په خیال کښې لیکلے دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سندره

خلق ورپسي تللي په اوښ به يې سوره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سنبال کړے دے

روس به مېلمنه راوړي زه د پرخو شمالېږمه
زه د خو شمالې نه په جامو کښې ځښېږمه
ځکښې به جنجیان وي اوښ به روښتو کېږاوه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

کله مېلمنه چې زمونږ کښېنوي پانګ کښې
ناستې سهیلې به ورسره وي ننګ په ننګ کښې
څوک به ورله توره چاے، څوک به ورله شنه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

وايي د توپچي منصور ناوې خفه کېږه مه
روس به د پرعالم راشي غلې شه ژړېږه مه
تاله به کوسۍ او مېنز ماله به سهره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل منصور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**